# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي نهمه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۹مه |٦٥۴مه ګڼه


## ځیره

۴ مخ

### دوریس لیسنګ



لیسنګ په اتیا کلنۍ کې د نوبل جایزه وګټله او دا تر ټولو عمر خوړلې د نوبل ګټونکې ده؛ خو هغې ویل، څه به یې کړم، دا مې هېڅ په درد نه خوري، نور زما عمر ختم شوی دی.

## د بریدونو او چاودنو دوام؛

### وکیلان: امنیتي ادارې د خلکو د امنیت په تامین کې ناکامې دي



۳

د ملي شورا تر چتر لاندې؛ قانون جوړوونکي که رشوت اخیستونکي!؟

۲ مخ

د امین او کارمل سیاسي ناندرۍ او د شورویانو خونړۍ برید

۲ مخ

ژوند د فزیک په قوانینو کې رانغښتې

۳ مخ

## د کریکټ نړیوالې شورا، راشد خان د شل اوریزو سیالیو د لسیزې د غوره لوبغاړي په توګه اعلان کړ




د کریکټ ملي لوبډلې لوبغاړی راشد خان د کریکټ نړیوالې شورا له خوا د شل اوریزو سیالیو د لسیزې غوره لوبغاړی اعلان شو. راشد خان په ۲۰۱۵ز کال کې د کریکټ شل اوریزو نړیوالو سیالیو ته له لارموندنې راپه دېخوا د هېواد لپاره ډېر وړیاړونه ګټلي دي. د کرکټ نړیوالې شورا پر خپلې ټویټرپاڼې لیکلي، راشد خان ۸۹ ویکټې اخیستي او درې ځله یې څلور ویکټې یوځایي اخیستي دي. دا لومړی ځل دی چې یو افغان لوبغاړی د لسیزې غوره لوبغاړی کېږي. د افغانستان د کریکټ ملي لوبډلې لوبغاړي راشد خان تر یاد اعلان وروسته ویلي چې د ویاړ احساس کوي او زیاتوي، خوښ دی چې دا ډول یو ایوارډ ورته ورکول کېږي. د یادونې ده چې ورمه ورځ د کریکټ نړیوالې شورا هم راشد خان د ۲۰ اوریزو سیالیو د لسیزې په غوره ټیم کې اعلان کړ. په یاد ټیم کې له پاکستان پرته د نورو هېوادونو لوبغاړي هم د غوره لوبغاړو په توګه غوره شوي وو.

## بشري حقونو کمېسیون: په هېواد کې دې د خبریالانو او بشري حقونو د فعالانو وژنې ودرول شي

په شمال زون کې د بشري حقونو کمېسیون ساحوي دفتر او یو شمېر خبریالان اندېښنه لري چې د رسنیزو او مدني فعالانو وژل د پېښو او واقعیتونو سانسورولو لامل ګرځي.

دوی پر حکومت تور پورې کوي چې د بشري حقونو او مدني فعالینو او خبریالانو د ژوند په خوندیتوب کې پاتې راغلی دی.

په شمال زون کې د بشري حقونو کمېسیون ساحوي دفتر دغه راز وایي چې د بشري حقونو فعالینو او خبریالانو په ترورولو سره دا وېره هم شته چې د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې د له منځه تلو له ګواښ سره مخ شي.

په بلخ کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ساحوي دفتر مشر سید محمد سامع وایي چې په هېواد کې باید ژر تر ژره د خبریالانو او بشري حقونو فعالانو د وژلو روانه لړۍ ودرول شي.

هغه زیاته کړې چې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په هېواد کې د خبریالانو او مدني فعالانو پر نښه کېدو خواشینی او له دې اړخه په جدي ډول اندېښمن دی.

سامع وایي، د بشري حقونو کمېسیون هڅه کوي څو له خبریالانو او مدني فعالانو سره یوځای د هغو خنډونو په لرې کېدو کې مرسته وکړي، چې د دوی ژوند ګواښي.

د هغه په وینا، د بشري حقونو کمېسیون په لومړي ګام کې غواړي چې د هېواد د بېلابېلو سیمو خبریالانو نظریات راټول کړي او له جمع بندۍ وروسته یې پر حکومت فشار راوړي چې د خبریالانو او بشري حقونو فعالانو خوندیتوب ته جدي پاملرنه وکړي.

## ملي امنیت د مشرانو جرګې درې غړي د رشوت اخیستلو پر مهال نیولي



۵ مخ

## صالح: شمار نیروهای پولیس در کابل دو برابر می شود



همزمان با نگرانی‌های جدی مردم از بدتر شدن اوضاع امنیتی شهر کابل، امرالله صالح، معاون نخست رییس‌جمهور می‌گوید که قرار است مقام ریاست‌جمهوری بربنیاد طرح میثاق امنیتی، تشکیل پولیس در کابل را دو برابر سازد.


آقای صالح درصفحۀ فیس‌بوک‌اش نگاشته‌است که ارزیابی مقایسه‌یی، نشان می‌دهد که حتا در حالت ثبات و آرامی، کابل کمترین شمار نیروهای پولیس را در مقایسه به جمعیت آن دارد.

در بخشی دیگری از نوشتۀ آقای صالح آمده‌است که مسؤولیت تأمین امنیت پاسگاه‌های اطراف کوه‌های کابل از پولیس به نیروهای اردوی ملی، سپرده شده‌است.

از سوی دیگر، او از بازداشت دو تن از مهاجمان که یک سارنوال را می‌خواستند در مربوطات حوزۀ هشتم ترور کنند، خبر می‌دهد. این درحالیست که در این اواخر وضعیت امنیتی کابل بدتر شده است. بنا بر اینکه مسئولیت امنیتی کابل به دوش معاون نخست رئیس جمهور سپرده شده است، اما این شهر روزانه گواه دها حملات و حوادث جنایی می باشد.

بر بنیاد آمارهای رسانه ها، در کمتر از ده روز اخیر تنها در نتیجۀ رویدادهای ضد امنیت در پایتخت ۲۳ تن جان باخته‌اند و ۷۲ تن دیگر، زخم برداشته‌اند.

آمارها نشان می‌دهند که در این مدت، ۱۵ رویداد ضد امنیت از جمله حملۀ انتحاری، انفجار موتر بم‌گذاری شده، انفجار ماین‌های مقناطیسی و قتل‌های هدفمندان رخ داده‌است.

## سرليکنه

# د ملي شورا تر چتر لاندې؛ قانون جوړوونکي که رشوت اخيستونکي!؟

لويه څارنوالي وايي چې د مشرانو جرگې درې غړي د رشوت اخيستو پرمهال د بلخ ولايت په حيرتانو بندر کې نيول شوي دي. د راپورونو له مخې، دا کسان د نظارت لپاره بلخ ولايت ته تللي وو او هلته يې د گمرک له رييس څخه په يوه قضيه کې ٦۰زره ډالره رشوت غوښته، خو په اخره کې يې ورسره ۴۰زره ډالره منلي دي. که څه هم لويې څارنوالۍ د يادو دريو سناتورانو نومونه دي اخيستي، خو د رسنيو د راپورونو له مخې، دغه کسان محمد عظيم قوياش، محمد انور باشليق او لياقت الله بابکرخيل دي چې درې واړه يې د مشرانو جرگې برحاله غړي دي او د رشوت اخيستو پرمهال د ملي امنيت کارکوونکو له خوا نيول شوي دي.

قوياش په مشرانو جرگه کې د سرپل ولايت استازی، باشليق د فارياب اوسېدونکی او بابکرخيل د خوست اوسېدونکی دی او دواړه انتصابي سناتوران دي.

د فساد او رشوت په دا ډول قضيو کې د لوړپوړو حکومتي چارواکو او د ملي شورا د غړو لاس لرل نوې خبره نه ده. تر دې وړاندې هم د ولسي جرگې او مشرانو جرگې غړي پر دې تورن شوي چې د فساد اړوند په گڼو قضيو کې ښکېل دي، خو دا لومړی ځل دی چې د مشرانو جرگې درې فعال غړي د رشوت اخيستلو په تور نيول کېږي. که څه هم د دغو کسانو نيول کېدل ښه اقدام دی، خو دا قضيه گڼې پوښتنې نورې هم له ځانه سره لري چې حکومت بايد ورته مناسب ځواب ووايي؛ ځکه تر دې وړاندې هم ځينې چارواکي په فساد کې د لاس لرلو په تور نيول شوي، خو د دوی له نيول کېدو له فساد سره د مبارزې په برخه کې يوازې په کمپايني توگه گټه اخيستل شوې، حکومت يوازې له نړيوالو فشارونو د ځان د خلاصون او د مرستو د راجلبېدو په پار دا ډول قضيې په لنډمهاله توگه رسنيزې کړي، خو د هغوی د څېړنو پايلې تر ننه نه دي په ډاگه شوې.

همدا اوس هم د ملي شورا د ځينو غړو په گډون، گڼ شمېر برحاله حکومتي چارواکي د فساد او بډو اخيستو اړوند په لويو قضيو کې ښکېل دي، د ځينو په اړه يې ان د رسنيو له خوا راپورونه هم خپاره شوي، خو حکومت بيا په دې برخه کې دوه گونی چلند کوي، د نړيوالو مرستندويو هېوادونو او ادارو د فشار پرمهال له فساد سره د مبارزې شعار ډېر زمزمه کېږي، خو کله چې دا فشار کمېږي، هرڅه عادي شي. حکومت بيا بيا ژمنې کوي چې دوی له فساد سره د مبارزې په برخه کې ژمن دي، خو حقيقت دا دی چې همدا اوس هم په گڼو ادارو کې په پراخه توگه فساد روان دی، ان کله کله دا گراف دومره لوړ شي چې نړيوالې مرستندويې ادارې او هېوادونه يې له کبله د خپلو مرستو د بندېدو خبرداری ورکړي. عام خلک نور د حکومت له دا ډول تکراري ژمنو ستړي شوي، حکومت دې له فساد سره د مبارزې په برخه کې عملي او کوټلي گامونه پورته کړي، په دې برخه کې د سليقوي چلند نه کوي، د ټولو هغو برحاله چارواکو د فساد اړوند دوسيې دې وڅېړي چې د حکومت تر چتر لاندې ځان خوندي احساسوي، دوی دې عدلي او قضايي ارگانونو ته معرفي کړي او په دې ډول دې له فساد سره رښتيني مبارزه وکړي.

# د امين او کارمل سياسي ناندرۍ او د شورويانو خونړی بريد

استاد شهسوار سنگروال

**وروستۍ برخه:**

د ډسمبر ۲۷مه له هغې ورځې سره برابره وه چې بايد آغا شي د پاکستان د بهرنيو چارو وزير، له امين سره د خبرو لپاره افغانستان ته راغلی وی.

په راډيو- افغانستان کې ما ته (ليکوال) ووېل شول چې په تاريخي او سياسي تبصرو کې بايد د پاکستان پر وړاندې دريځ نرم شي.

ما چې د راډيو مهالنۍ سرمقاله ليکله، را ته دا خبره په گوته شوه چې د ډسمبر په ۲۷مه آغا شاهي راځي، سرمقاله بايد د افغانستان او پاکستان د ښو اړيکو اړتيا ته ځانگړې شي.

ولې د ډسمبر په ۲۵مه بېرته د راډيو- افغانستان ټولو پروډيسرانو ته ووېل شول چې د پاکستان د بهرنيو چارو وزير سفر وځنډېد او د دې لامل همدغه و چې د نوموړي سفر سبوتاژ شي.

نو ځکه د برژنف په سپارښتنې امين د سياسي بېرو غونډې ته ووېل: «د برژنف لخوا دغسې يادښت تر لاسه شوی دی چې د آغا شاهي سفر ۳۰مې نېټې ته وځنډوي، ستاسو نظر څه دی؟

صالح محمد زيري ووېل: څه توپير لري سفر دې وځنډول شي.

د بهرنيو چارو وزير شاه ولي ووېل: جناب امين صاحب! ښه ده، خو زه اندېښنه لرم!؟

زيری: دا دې اندېښنې خبره نه ده، د دريو ورځو مسئله ده.

شاه ولي: محترم زيری صاحب! د روم ښار په يوه شپه په ايرو بدل شو.

دغه سوال او جواب لا روان و چې امين د يادښت په کتابچه کې داسې وليکل: «د پاکستان د اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو محترم وزارت ته!

د ځينو اسنادو د برابرولو لپاره که چېرې جلالتماب د بهرنيو چارو وزير آغاشاهي د ډسمبر په ۲۹مه يا ۳۰مه کابل ته تشريف راوړي، خوشاله به شو.

په پای کې ۲۷مه نېټه هغه وه چې شوروي سرو لښکرو پر افغانستان وسله‌وال بريد وکړ، امين د هغه کورنۍ او ډېر سرتېري يې په سرو وينو کې ولمبول.

په داسې حال کې چې د عيسوي اختر په ماښام تياره خپره شوه، د شوروي له هوابازانو څخه ډکې «انتونوف» ترانسپورټې الوتکې د کابل په نړيوال هوايي ډگر کې ښکته شوې. د عيسوي اختر په تنکي سبا باندې د شوروي پل جوړوونکو ځواکونو، چې د شوروي له څلوېښتمې اردو سره يې دنده لرله، ترميز (حيرتان) بندر ته نږدې پر امو سيند تختهيي پلونه کېښودل او د شوروي لومړۍ شوبلې له پولې څخه تېرې شوې، چې حفيظ الله امين او د هغه نږدې همکاران ووژني او د افغانستان په (اصطلاح) کمونېست گوند کې نوی مشرتابه وټومبي. هغه وخت را ورسېد، په ډېره بېړه شوروي ځواکونو د وکيل په لارښوونه په کابل کې د امين د اوسېدو ماڼۍ (تاج بېک) ته لار ومونده او پر هغه يې گولۍ وچلولې او په لسگونو KGB افسران ووژل شول.

شبر شين په دې اند دی، چې امين د دوی گټو ته يو لوی گواښ و او امين په دې اند و، چې په موږ د مصر د جمهور رييس انور سادات کانه ونه کړي.

الکساندرلياخوفسکي وايي چې شوروي ځواکونه پر افغانستان ورتوی شول، حفيظ الله امين يې وواژه او بيا اندروپوف د ټليفون په ليکه لومړی کارمل ته مبارکي وويله او بيا يې د شوروي پراشوټې قطعې ته امر وکړ، چې ببرک کارمل ډېر ژر کابل ته ورسوي. اندرو پوف په داسې مهال دا امر وکړ، چې لومړی يې د امين د وژلو ډاډ ورکړ او بيا يې د KGB غړوته ووېل چې لومړی گلاب زوی او سروري بايد د امين مړی وگوري او بيا د تاج بېگ ماڼۍشاته په کنده کې ښخ کړي، چې د مخه کيندل شوې وه .

هغه وو چې ببرک کارمل له خپلو ملگرو سره يو ځای په شوروي ټانگونو سپور کابل ته را ننووت او د افغانستا ن ستره غميزه، چې د جدي شپږمه نېټه وه، پيل شوه .

هغه مهال چې د مسکو چارواکو وپتېيله، چې سرې لښکرې پر افغانستان باندې د يرغل لپاره چمتو کړي، د يوې غونډې په ترڅ کې چې برژنف د تل په څېر داسې د ودکا په څښلو نېشه شوی و، ځان يې نشو ټينگولای، خو همدا به يې له خولې وتل چې «کثيف انسان».

ده چې ځان يې نشو کابو کولای، په داسې وخت کې دا خبره کوله چې د گروميکو په مشرۍ چې اوستينوف، اندروپوف او ځينې نور هم په غونډه کې حاضر وو، د خبرو په لړ کې چې برژنف قدم واهه او گروميکو به هم کله کله له مټ نه ټينگ کړ چې ونه غورځېږي، نو په غوږ کې يې ور وڅڅوله: «امين ډېر خطرناک انسان دی، «اوليانوفسکي» چې د نړيوالې ادارې مرستيال و، ده هم په دغه غونډه کې حضور درلود، ده په دې اړه ويلي دي:

«برژنف نږدې وه چې څو وارې ولوېږي، خو گروميکو به بېرته کېناوه، ولې په غوږ کې به يې ورته ويل چې نوي اطلاعات مو تر لاسه کړي دي او داسې ښکاري چې امين څومره خطرناک انسان دی؟»

کله چې دغه ډله په سر کې د شوروي اتحاد د کمونېست گوند عمومي منشي برژنف واورېده، دې پرېکړې ته ورسېدل چې پر افغانستان به د امين پر وړاندې وسله‌وال بريد کوي.

هغه وو چې د ډسمبر په ۲۴مه د شوروي اتحاد د پوځونو لومړۍ ډله د هوا له لارې افغانستان ته ورسېده.

لکه څرنگه چې شوروي په پټو سترگو له خپلې سياسي وېرې دېته بدې را ووهلې، چې پر افغانستان پوځي يرغل ته لاره پرانېزي؛ همدا رنگه امريکا هم له دې وېرې چې ايت الله خامنه‌يي د ايران پادشاهي نظام (۱۹۷۹ کال) چې د امريکا متحد و رنگ کړ، خواشينې وه.

که د واشنگټن چارواکي په پهلوي شهزاده گانو خپه وو، خو مسکو واکمن د ايران «تودې» گوند ته خواشيني وو چې څرنگه کولی شي چې له يوې خوا د توده يانو سياسي هلې ځلې له گواښ سره مخ نشي او له بلې خوا د «ثور انقلاب» وژغورې؟

دوی دې پرېکړې ته ورسېدل چې پخپل پوځي يرغل به هم د افغانستان نظام وساتي او هم به د ايران اخوندان په دې ووېروي چې د «تودې کمونېست» گوند له ځپلو لاس په سر شي.

دلته ده چې جنرال کريلوف ته دنده وسپارل شوه چې د افغانستان د کړکېچ په تړاو معلومات وړاندې کړي.

نوموړي چې له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۹ کال پورې په افغانستان کې پوځي سلاکار و، د افغانستان د پوځي او سياسي حالاتو په تړاو د شوروي د بهرنيو چارو وزير گروميکو، د KGB رييس اندروپوف، د دفاع وزير مارشال اوستينوف، لوی درستيز جنرال اگارکوف، د بهرنيو چارو د وزارت مرستيال کرنينکوف او تورن جنرال اېوانوف ته په يوه غونډه کې بشپړ معلومات وړاندې کړل. موروزوف هم په شوروي سفارت کې (۱۹۷۵ – ۷۹) د KGB د مدير د مرستيال په توگه کار کاوه، د ډسمبر له لومړۍ نېټې تر ۲۴مې پورې دا ډول پرله پسې غونډې روانې وې.

په پای کې مارشال استينوف د ډسمبر په ۲۴مه د ورځې په پيل کې د شوروي د دولتي او گوندي چارواکو پرېکړه اعلان کړه، چې پر افغانستان به پوځي يرغل کوي.

همدا لامل و چې د يوې پوځي ډلگۍ له لېږلو سره جوخت «اېن ۱۲، اېن ۲۲» الوتکو د کابل په هوايي ډگر کې الوتنې پيل کړې، د گوند غړو اعلان وکړ چې د کابل ښاريان دې خپلو کړکيو ته پردې واچوي چې بېرون ته څه ونه گوري، دا څومره وړه او غولوونکې سياسي خبره وه چې شوروي سلاکارانو افغان چارواکو ته په غوږ کې اېښې وه او هغو هم په کڼو غوږو او پټو سترگو دا ناره راپورته کړه چې پردې واچوئ او د «الارم» له غږولو سره ځانونه عيار کړئ. ياني څه؟ ياني: دا چې د شوروي اتحاد يو غولوونکی سياست!!

شوروي اتحاد، په همدې پلمه د کندهار او شينډنډ په هوايي ډگرونو کې جنگي الوتکې ځای پر ځای کړې او د پنځو زرو په شاوخوا کې وسله‌وال ځواکونه يې چې په سپکو او درنو وسلو سنبال وو، د ډسمبر په ۲۷مه په هوايي ډگرونو کې مېشت کړل.

په همدې ماښام د اوو بجو شاوخوا لومړی پر راډيو- افغانستان بريد وشو او بيا د تاج بېک ماڼۍ تر اور لاندې راغله.

موږ د مخه ووېل چې د امين په گډون د گوند او دولت چارواکي مسموم شوي وو.

ما ته (ليکوال) د راډيو- ټلوېزيون يو کمره مين چې صديق نومېده، له «عمر» سره يو ځای د همدې ماښام د شپږو بجو په شاوخوا کې ووېل: موږ چې د غونډې انځورونه او تصويرونه د غونډې په ځای کې کره کول، ومو ليدل چې د حفيظ الله امين په څېره کې داسې څه بربښېدل چې موږ ته يې داسې اندېښنه پيدا کړه، چې دغه تصوير د خپرېدو وړ نه دی.

ما د امين صاحب ياور ته ووېل چې که امين صاحب ته ووايې چې د کمرې مخې ته راشي او د «خبر» لپاره يو ښه تصوير ترې واخلو.

هغه را ته په ترخه او ترېو تندي ووېل: که په نيمه پوهېږې کمره دې ټوله کړه او له دې ځايه دې پښې سپکې کړه.

ده داهم ووېل: زه لا د امين صاحب له ياور سره په خبرو کې وم چې د مرکزي کمېټې دوه غړي چې نوم يې ما (ترې وپوښته)، خو ده وا نخيست په زينه کې را «کولې» شول او ورغړېدل.

د شوروي اتحاد، د هوايي پل په تړاو چې نه يوازې خلکو اندېښنه لرله، چې گڼې په دغو الوتکو کې ټانگونه لېږدول کېږي؛ بلکې حفيظ الله امين ته هم دا د اندېښنې وړ شوه چې بېلابېلو سرچينو هم ورته د يوه گواښ په سترگه کتل، امين لکه د تره کي په څېر دا منلې وه چې ځينې روسي پوځونه به ستا امنيت ساتي. ولې وروسته يې چې وليدل الوتکې بېړنۍ ښه لري، نو خوشبينې يې په بدبينۍ بدله شوه.

له دې سربېره له يوې خوا امين ته دا هم ويل شوي وو چې ببرک کارمل به مني، کوم څه چې امين ته دغه خبره د منلو وړ نه وه او له بلې خوا د ده ليدنې او کتنې چې له امريکايي ډيپلوماتانو سره ډېرې شوې وې، پخپله يې ورته پوښتنې پيدا کړې وې.

د شوروي ځواکونو د رابللو او بريد په اړه ويل کېږي چې گڼې د افغانستان له لوري د تره کي او امين د ۱۹۷۸ کال د ترون پر بنسټ شوی دی، چې د ډسمبر په پنځمه لاسليک شو.

ولې ځينې کورنۍ او بهرنۍ ډاډمنې سرچينې دا نه مني؛ بلکې د فرهنگ په څېر تاريخپوهان په دې اند دي چې: «پر افغانستان د شوروي ځواکونو د يرغل او بريد مسووليت د کارمل پر غاړه دی، چې د سرو لښکرو په سيوري کې کابل ته راغی.»

د شوروي پوځ کوم ټولگی ياني د مسلمانانو کنډک او د زينت قطعه چې د امين د غولولو لپاره را دې مخه شوې وه، هسې يوه پلمه وه. دا ځکه چې د ډسمبر په ۱۳مه د روسي ترکستان د پوځي ځواک عمومي قوماندان جنرال ماکسيموف خپل مرستيال تورن جنرال توخارينوف ته سپارښتنه وکړه، چې پوځونه يرغل ته تيار کړي. که څه هم د جدۍ له شپږمې د مخه خالبايف (۲۲ ورځې) وړاندې د عملياتو د پلان لپاره استول شوی و. ماکسيموف د هوا له لارې ځان ترمز ته ورساوه، ځکه چې هلته د څلوېښتمې فرقې پلاز و او ټول ځواکونه د تيارسۍ په حال کې وو.

کوم پوځي تشکيل چې هلته جوړ شوی و، سيمې او نړۍ ته د هېښتيا او حيرانتيا وړ و او ډېر نامتو پوځي چارواکي چې موږ توخارينوف، جنرال وتکاپوف، جنرال لويانوف، جنرال کرچاکين او نور يادولی شو، دوی په هغو پوځي ټولگيو کې په دندو بوخت وو. لکه را وخله د ديسانت لوا، د راکټ او دافع هوا لوا، د مخابرې، انجنيرۍ، لوژستيک او تاميناتو جزوتامونه، هوايي ځواکونه، ترانسپورټي اسانتياوې او نور جگړه ييز ځواکونه يادولی شو چې په سر کې يې مارشال سکولوف ټاکل شوی و.

په پای کې دغو ټولو هوايي او ځمکنيو ځواکونو د ترمز له لارې چې لومړی شمېر يې اتيا زرو ته رسېده، پر افغانستان بريد وکړ.

د شوروي پوځونو د شمېر په تړاو داسې انگېرنې شته چې گڼې يوسلو شلو زرو په شاوخوا کې ځواکونو (ځينې له دېنه ډېره او ځينې دغه شمېره لږ ښيي) پر افغانستان يرغل وکړ.

الکساندر ليا خفسکي پر دې اند دی چې کله دغه ټول شوروي ځواکونه دېته چمتو شول، چې پر افغانسان ورتوېې شي، نو بيا: «هغه ځانگړي ځواکونه چې د تاج بېک د ماڼۍ په شاوخوا کې وو، د گوند او د دولت په مشر حفيظ الله امين يې بريد وکړ او وې واژه.

د ډسمبر په ۲۷مه اندرو پوف د ټليفون په کرښه لومړی کارمل ته د ثور انقلاب د دويم پړاو د برې مبارکي ورکړه او بيا يې د شوروي پراشوټې قطعې ته امر وکړ چې ببرک کارمل ډېر ژر کابل ته ورسوي.

شوروي چارواکو لومړی غوښتل چې کارمل په الوتکه کې ولېږدوي، خو وروسته يې د څو روسي ټانگونو په بدرگه په محاربوي ماشين کې د «شيرگين» په قومانده چې د «الفا» په نوم د استخباراتو يوه قطعه هم ورسره وه، کابل ته ورساوه».

بايد په دې پوه شو چې کارمل د يرغل په سبا له تاجکستان نه د بگرام هوايي ډگر ته په الوتکه کې او بيا يې کابل ته په ټانگ کې ورساوه.

اندروپوف دغه امر په داسې وخت وکړ چې ده ته د حفيظ الله امين د وژلو ډاډ ورکړل شو. (ان تر دې چې مړی د سروري او گلاب زوی لخوا کتل کېږي) او بيا د KGB غړو ته سپارښتنه وشوه چې اوس امين په هغه کنده کې چې د ماڼۍ شا ته کيندل شوې وه، ښخ کړي. عبدالقدوس غوربندي د يوې قطعې د قوماندان له خولې چې د پېښو عيني شاهد و، په خپل کتاب «نگاهې به تاريخ...» کې د دې شپې پېښې داسې کښلې دي چې گڼې له امين سره بايد داسې شوي وي:


«د شپې په وروستيو کې عبدالوکيل چې د شوروي پوځونو يونيفورم يې پر غاړه و (صاحب منصبان يې را ټول کړي وو)، په سپکو سپورو يې امين د CIA جاسوس باله. موږ يې هره گړۍ په مرگ تهديدولو، امين د CIA په دستور له پاکستان سره سازش کاوه.»

دا ډول ډېرې سپکې سپورې د نوموړي له خولې وتلې. په پای کې سرو لښکرو د کابل مهمې ستراتېژيکې سيمې ونيولې او پرچميان يې پر ټولو ملکي او پوځي سيمو واکمن کړل.

**پای**

# ژوند د فزیک په قوانینو کې رانغښتی

فهیم لمر



په فزیک کې موږ یو قانون د سطحې او قوې په هکله لرو، چې په دې قانون کې د سطحې او قوې تر منځ اړیکه معکوسه ده. یعنې په هره اندازه چې سطحه ډېره شي، وارده شوې قوه کمېږي او په هره اندازه چې سطحه کمه شي، وارده شوې قوه ډېرېږي. په ورځني ژوند کې که موږ د خپلو کارونو نتیجه وارزوو؛ نو موږ ته به په ډاګه شي، چې د فزیک له دغه قانون څخه مستثنا نه یو. دا په دې مانا که موږ په یوه وخت کې په څو کارونو باندې لګیا اوسو، نو موږ زیاتې انرژي یا قوې ته اړتیا لرو.

یعنې کارونه که سطحه وګڼو او کومې لاسته راوړنې چې موږ یې لرو، د وخت په انټروال کې هغه قوه یا انرژي و انګېرو، دا موضوع به موږ ته واضح شي. مثلاً موږ غواړو په یوه وخت کې دوې ژبې زده کړو، نو دا واضح استدلال دی، چې د دوو ژبو د زده کړې لپاره به هممهاله د زدکړې نتیجه ژر نه وي، ځکه چې دلته سطحه پراخه شوه، یعنې دوې ژبې شوې، چې باید زده شي او کومه قوه چې موږ یې لرو؛ هغه هم په دوو برخو ووېشل شوه، نو نتیجه به ژر حصول نه شي. کېدای شي ښه هم نه وي. که تاسو د خپل ځان لپاره څو موخې ټاکلې وي. غواړئ چې په خپل ژوند کې یې ژر لاسته راوړئ او د ژوند له لومړیتوبونو څخه مو وي. تاسو اول کوشش وکړئ چې په دې موخو کې تر ټولو مهمه یوه په نښه کړئ او لومړی هغه ته کار وکړئ چې د نورو موخو په پرتله مهمه وي. ځکه سطحه کوچنۍ کېږي او قوه یا انرژي ډېرېږي او ستاسو لاسته راوړنې به هم پکې ښې او پر خپل وخت وي. مثلاً که تاسو د دوو ژبو پر ځای لومړی هغه یوه ژبه وټاکئ چې تاسو ته ډېره مهمه ده. د فزیک د دې قانون په استنباط؛ تاسو به مطلوبې پایلې ته ژر ورسېږئ، ځکه انرژي یا قوه ډېره او متمرکزه وي او نه وېشل کېږي.

په فزیک کې مو د فشار د قانون په هکله څه لوستي دي؟ د فشار قانون د سطحې قانون ته ورته والی لري. په هره اندازه چې قطر کوچنی وي، فشار ډېرېږي. مثلاً که تاسو د اوبو د پیپ قطر په نظر کې ونیسئ، په هره اندازه چې د پیپ قطر کوچنی وي، د اوبو فشار به ډېر وي، لرې ځای ته اوبه پاشلی شي او په هره اندازه چې د پیپ قطر لوی وي، د اوبو فشار به لږ وي، لرې ځای ته اوبه نه شي شیندلی. کېدای شي تاسو ته پوښتنه پیدا شي چې دا قانون نو زموږ له ژوند سره څه اړیکه لري او که تاسو په خپل ذهن کې د خپلو موخو یا اهدافو یو انځور وکښئ، تاسو به پوه شي چې د دغه قانون اړیکه او ورته والی څه دی. هو، که ستاسو موخې ډېرې ژورې نه وي او سطحي وي یا ډېرې لویې نه وي، نو تاسو کولی شئ په ځان باندې د لږ فشار په راوړلو سره هغه تر لاسه کړئ. مثلاً، غواړئ د یوه کوچني ناول یوه برخه ولولئ، نو د دې د لوستلو لپاره تاسو ته ضرورت نشته چې په ځان باندې ډېر فشار راوړئ، خو که ستاسو موخه یا هدف ژور اوږدمهاله او لوی وي. د فزیک د فشار د قانون په استنباط تاسو اړ یاست، چې پر ځان ډېر فشار او خواري ومنئ، تر څو خپلې موخې ته ورسېږئ. پرته له دې؛ نظر دې قانون ته ناشونې ده چې خپلې موخې ته ورسېږئ. مثلاً، تاسو غواړئ په داسې یوه موضوع کې تحقیق وکړئ، چې نوې وي او تر دې وړاندې چا په دې هکله تحقیق نه وي کړی، نو د دې لپاره باید تاسو پر ځان ډېر فشار ومنئ.

# د بریدونو او چاودنو دوام؛

## وکیلان: امنیتي ادارې د خلکو د امنیت په تامین کې ناکامې دي



په هېواد کې روان امنیتي وضعیت او هدفي بریدونو سترې اندېښنې رامنځته کړې دي. پرون د ولسي جرګې غړو په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال په امنیتي ادارو کې پر کمزوریو نیوکې کړې دي او په خبره یې، دوی د خلکو د امنیت په تامین کې ناکام دي. وکیلانو وویل، امنیتي ادارې د وظیفوي تداخل او همدارنګه د سلسله مراتب د نه موجودیت له امله له کمزورۍ سره مخ دي او اصلي دندې ترې پاتې دي. بلخوا ولسمشر غني پر روان وضعیت تېره ورځ د کابینې فوق العاده غونډه کړې او له اړوندو ادارو یې غوښتنه کړې چې د امنیت په تامین کې خپلې هڅې پراخې کړي.

همدا پرون کابل ښار د دوو چاودنو شاهد و. کابل ښاریانو خپله ورځ د درنې چاودنې په اورېدو پیل کړه او بېرته مازیګر مهال د بلې درنې چاودنې پر مهال د کابل ښاریانو ورځ پای ته ورسېده. امنیتي چارواکو د تل په څېر د پېښې په اړه د لا پلټنې خبره وکړه او د برید اصلي عاملین بیا هم نامعلوم دي.

دې هر څه د عامو وګړو او ولسي جرګې غبرګون پارولی دی. د ولسي جرګې غړو د تېرې ورځې په غونډه کې د افغانستان پر امنیتي ادارو سختې نیوکې وکړې او په خبره یې، دغه ادارې د خلکو د امنیت په تامین کې کمزورې دي. د دوی په وینا، هره ورځ په کابل او ولایتونو کې د مقناطیسي ماین چاودنې کېږي، هدفي بریدونه کېږي او جنایي پېښې اوج ته رسېدلې، خو د کورنیو چارو وزارت کمزوری مدیریت د دې پېښو په کابو کولو او کمولو بریالی شوی نه دی.

وکیلانو همدار راز وویل چې په امنیتي او دفاعي ادارو کې سلسله مراتب او نظم له منځه تللی، وظیفوي تداخل موجود دی او امنیتي چارواکي د یو بل له اوامرو سرغړونه کوي چې همدې مسئلې کمکاري ډېره کړې او د لویو ستونزو لامل ګرځېدلې دی. د ولسي جرګې غړی خالد اسد وایي، که وضعیت همداسې وي، نو ښه ده چې د کورنیو چارو وزارت لغوه کړل شي. د ده په خبره: ((راځئ د وزارت داخلې د لغوې وړاندیز ورکړو، امنیتي سکتور دې د لومړۍ مرستیالۍ، د ولسمشرۍ مانۍ یا پي پي ایس یوه برخه شي. په دې توګه به له یوه ځایه قومانده اخلي او موږ به هم له وضعیت نتیجه واخلو)).

بلخوا د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني وایي چې راتلونکې دوشنبه به د امنیتي ادارو مسوولین عمومي غونډې ته راځي او د وکیلانو پوښتنو ته به ځوابونه ووایي. د ده په خبره: ((د رییسانو کمېټې پرېکړه کړې، چې د امنیتي ادارو مسوولین به راتلونکې دوشنبه عمومي غونډې ته حاضر شي او د وکیلانو پوښتنو ته به ځواب ورکړي)).

بلخوا ولسمشر غني بیا د کابینې په فوق العاده غونډه کې د خبرو پر مهال ویلي چې ترهګرې ډلې هڅه کوي د ځوانانو ترمنځ ناهیلي، بې باوري او تزلزل رامنځته کړي. د ده په خبره، افغانان باید کمزوري نه شي او د دښمن په دغه ډول دسیسو دې نه ماتېږي. هغه همدا راز په دې غونډه کې د امنیتي ادارو مسوولینو په تېره د کورنیو چارو وزارت ته سپارښتنه کړې چې ژر تر ژره دې په کابل او ولایتونو کې د وروستیو ترهګریزو او هدفي بریدونو مسوولین ونیسي او محاکمه دې کړي. هغه له کورنیو چارو وزارت غوښتي چې د ترهګرو د محکمې او نیولو پروسه دې چټکه کړي.

ولسمشر غني همدا راز د خبریالانو، سیاسي فعالینو، ډاکټرانو، مدني فعالینو او ملکیانو وژل غیر انساني عمل بللی او په خبره یې: ((دغه ډول بریدونو، پر یوه نسل برید دی، زموږ پر زړه برید دی، د ټولو ارزښتونو تر پښو لاندې کول دي، موږ باید د شهیدانو کورنیو ته رسېدګي وکړو او د پېښو عاملین محاکمه کړو)).

ولسمشر دغه راز د سولې په برخه کې هم د ټولو ولایتونو پر والیانو غږ کړی چې سوله د یوه ملي بحث په توګه مطرح کړي، د خلکو ملاتړ خپل کړي او دوی په دې مهم امر کې د ځان تر څنګ ودروي.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له یو میلیون او ۷۷۴ زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۸۱ میلیونه او ۲۳۶ زره او ۷۵۲ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۷۷۴ زره او ۲۴ کسان مړه شوي او له ۵۷ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۱۹ میلیونه او ۵۷۵ زره او ۲۴۸ ته رسېدلي او ۳۴۱ زره او ۱۴۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۲۰۸ زره او ۷۲۵ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۴۸۴ زره او ۲۸۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریېم، روسیه د درې میلیونه او ۷۸ زره او ۳۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۵۵۹ زره او ٦٦٨ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. برېټانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا د امریکا ولسمشر ډونالد ټرمپ د کرونا له کبله د مرستو او د حکومت د لګښتونو لایحه تر څو ورځني ځنډ وروسته توشېح کړه. د دغه څو ورځني ځنډ پر مهال د ملیونونه امریکایانو لپاره د بې‌کارۍ د اضافي پیسو ورکړه درېدلې وه او د کانګرېس غړو خبرداری ورکړ چې ممکن حکومتي چارې ودرېږي.

ولسمشر ټرمپ د ډسمبر په ۲۲مه نېټه وروسته له هغې د کانګرېس غړي حیران کړل، چې نوموړي ټینګار وکړ چې د کرونا له کبله د مرستې او د حکومت د لګښتونو لایحه به لاسلیک نه‌کړي. دا لایحه د امریکا د استازو په جرګه او سنا دواړو کې د میاشتو بحثونو او له دې ډاډ وروسته چې سپینه ماڼۍ به‌یې ملاتړ وکړي، په لوی توپیر تصویب شوې وه. په دې طرحه کې د کرونا له کبله بې‌کاره شویو خلکو ته د منظمو نغدي مرستو د دوام سربېره، ټولو په شرایطو پوره امریکایانو ته د یو ځل لپاره د کرونا په خاطر د ٦۰۰ ډالرو مرستې ورکول منل شوي دي.





ټرمپ ترې دې وړاندې پر دې طرحې نیوکه کړې وه چې دا پیسې ډېرې کمې دي او هغه له کانګرېس څخه غوښتنه کوله چې دا یو ځل نغدي مرسته دې د هر کس لپاره ۲ زره ډالرو ته پورته کړي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسي پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېیمه برخه
### کشمیر




دولت: هو پر ۳۷۰یمه ماده وخت ناوخت خبرې شوې دي، ښايي په مهمو ځایونو کې پرې خبرې شوې نه وي. خو که دا کار وشي، نو سړی ویلی شي چې هندیان به یې هر کلی وکړي؛ خو دا کار به پر کشمیر منفي اغېز وکړي. دا ماده اوس یوه بې مانا خبره ده، ځینې وايي چې اوس دا هسې په نوم یو څه دي، ځکه له ۳۷۰یمې مادې څه شی پاتې دي؟ له دې مادې تمې تر دې حده پرې شوې دي چې ته وا بېخي دا ماده نشته. ولې باید یو څوک دا وروستی سمبول هم پسې له منځه یوسي.

سېنها: د غټو لوټونو ناچل اعلانولو د تورو پیسو پر چلښت هېڅ تاثیر نه دی کړی؛ خو خلکو ته یې وښوده چې مودي سخت انسان دی.

دوراني: که تاسو د پاکستان تایید غواړی، نو د «دولت» غوندې یو څوک وگومارئ. دی د کشمیریانو پر اصلي دردونو پوهېدای شي. که د استېبلېشمېنټ سړی وي، له یو څه موقتي غبرگونونو پرته به په نورو لویو بدلونونو لاس پورې نه کړي. دغه کس به داسې څه هم و نه کړي چې پاکستان ډېر را وپاروي.

خو دوی یو څوک ټاکلی، گورو چې څه کېږي؟

زه څوک یم چې پر ښه او بد خبرې وکړم؟ زه بېخي پارېدلی نه یم. زموږ د بهرنیو چارو وزارت سمه خبره کړې ده، د بهرنیو چارو وزارتونه باید دغسې وکړي. ولې باید داسې څه ته د تایید سر وخوځوو چې هم یې کشمیریانو ته زښت ډېر تاوان ورسېږي او هم موږ ته؟!

سېنها: ستاسو په اند په دې وخت کې د دغه کار انگېزه څه ده؟

دوراني: زما په نظر دا یوه بله دوکه او تېر ایستل وو، ځکه «ټېلرسن» سیمې ته په سفر را روان و. په پاکستان کې پر دغسې مواقعو یو څو تنه را ټول شي او پر گډ کار او همکارۍ غوږېدلی سیورۍ، تت وساتي. په هغو پخوانیو زرینو کلونو کې هند یو ډېر په زړه پورې پلان درلود. د یوه امریکایي چارواکي تر سفر څو اونۍ وړاندې به یې حالت کړکېچن کړ، نو دغه چارواکی چې به را ورسېد، په دفاعي حالت کې به و. هند کوچنی هېواد نه دی، چې ځان باید ښه وښیي. اوس هند، امریکا او اسرائیل سره وصل شوي دي، د کابل رژیم هم په دا منځ کې چاپلوسي ورته کوي. د دوی هدف د چین – پاکستان بلاک دی، د دوی لومړنی هدف دا دی چې د پاکستان - چین اقتصادي دهلېز ته خنډونه ور واچوي.

هند ټېلرسن ته دا ویل غوښتل چې د کشمیر په تړاو دې اندېښنه نه کوي. بېخي دا موضوع مه راپورته کوه، موږ د دې لپاره لکه ستاسو «افغانستان او پاکستان لپاره ځانگړي استازي» غوندې استازی گومارلی دی. ټېلرسن د دوی ټولې خبرې منلې وې، که ټېلرسن دا موضوع راپورته کړې وای، نو ویل به یې چې گورئ، کشمیر لا یوه مسئله پاتې ده او ستونزې جوړوي. ټېلرسن ډېر جنجالي سړی نه و او ډېر شور او ځوږ یې نه جوړاوه، خو ان دغه وخت هم دا موضوع له وړاندې حاشیې ته کړای شوې وه.

دولت: راځئ داسې ووایو چې دا د ټېلرسن له لاسه. تا ته خو پته ده چې زه یو خوشبین انسان یم. زه له «دانشور» سره پېژنم، سره همکاران یو، په کشمیر کې مو هم یو ځای کار کړی دی. دی ساده انسان دی، سپین غږېږي، لوبې یې یادې نه دي او زموږ داسې یو همکار دی چې پر کشمیریانو یې زړه سوځي. دی ښه اورېدونکی دی، داسې څوک نه دی چې بې پروا دې وغږېږي.

سېنها: خو دی ښاغلي «ډوال» گومارلی دی او «راجنات سېنگ» یې اعلان وکړ، نو دی به هغه څه کوي چې ښاغلی ډوال یې ورته وایي، که داسې نه ده؟

دولت: خبره مو بېخي روغه ده. ځکه خو موږ ټولو ورته یو شان هرکلی ووایه. ما جنرال صېب ته وویل چې باید ده ته شپږ میاشتې وخت ورکړل شي.

دوراني: په اصل کې دا هغه ته هم یو فرصت دی.

سېنها: جنرال صېب د کشمیر په اړه یوه خبره وکړه، چې دا مسئله به ایله په راتلونکو ۲۰۰ کلونو کې حل شي.

دوراني: نه، نه، نه، زما مطلب دا نه و. زما مطلب دا و چې که مسئله همداسې نامعلومه هم روانه وي، نو مانا یې دا نه ده چې موږ لاس تر زنې کېنو او په کشمیر کې هېڅ هم نه کوو.

دولت: زه دا خبره بالکل در سره منم. کېدای زه د ډیلي په تور لېست کې راشم، خو زه بیا هم دا وایم چې کشمیر په پاکستان کې تر بلې هر مسئلې لومړیتوب لري. د دې خبرې ډېرې تشریح ته هم اړتیا نشته. هو په یو - نیم وخت کې حالت داسې شي چې باید هغسې نه شي، لکه ۲۰۱۶-۲۰۱۷ کال کې.

خو زه چې له پاکستاني ملگرو سره خبرې کوم، غواړم له دوی یو څو پوښتنې وکړم؛ دوی ولې داسې کوي؟ ولې کشمیر سم نه پېژني؟

سېنها: دا کتاب به د ۲۰۱۸ کال په اوړي کې چاپېږي. ستاسو په اند هغه مهال به په کشمیر کې کومه سناریو روانه وي؟

دولت: سخته ده، سړی څه نه شي ویلی. پاکستان یو فکټور دی. موږ که له کشمیریانو سره خبرې کوو، نو باید له پاکستان سره هم خبرې وکړو. موږ چې له کشمیریانو سره په څه هوکړې ته ورسېږو، نو دوی ته به بیا له پاکستان سره د خبرو اجازه ورکړل شي. په تېر کې هم داسې شوي دي.

**دوام لري...**

# دوریس لیسنگ

شفیق امیرزی



دوریس لیسنگ له برېتانوي مور و پلار په ایران کې زیږېدلې ده. هغه په ۱۹۱۹ کال کې هغه مهال وزیږېده چې معیوب پلار یې د ایران په شاهنشاهي بانک کې کار کاوه. پلار یې د برېتانیا په پوځ کې سرتېری و، خو په لومړۍ نړیواله جگړه کې ټپي شو. پښه یې پرې شوه او له همدې وروسته د برېتانیا په یوه روغتون کې بستري شو، همدلته له یوې نرسې سره بلد شو، دواړو واده وکړ او تر هغه وروسته ایران ته راغی او دلته د بانک کارمند و. د دوریس پلار الفرد تیلور نومېده او د مور نوم یې امیلي تېلور و. د دوریس کورنۍ تر ۱۹۲۵ کال پورې د ایران په کرمانشا کې وه، خو تر دې وروسته د برېتانیا یوې مستعمرې ته یا اوسنۍ زیمبابوې ته لاړل. پلار یې دلته د څلور کیلومتره مربع په اندازه کرونده جوړه کړه او په کروندگرۍ بوخت شو. دې ځمکې دوی ته کومه گټه ونه کړه، مور یې د ښایسته او ملکې ډوله ژوند تږې وه، خو دلته یې هم هیله پوره نه شوه. خو بیا هم بله چاره نه وه، پلار یې دلته په کرونده بوخت و او د دې وخت شو چې خپله لور دوریس لیسنگ زده کړو او تعلیم ته کېنوي. سره له دې چې د دوریس کورنۍ کاتولیک نه وه، خو هغه د نجونو یوې کاتولیک مدرسې ته ولېږل شوه.

هغې په دیارلس کلنۍ کې ښوونځی پرېښود. له ښوونځي سره یې تر مخې ښې وروسته په شخصي توگه خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه. هغه پنځلس کلنه وه چې له کورنۍ سره یې هم مخه ښه وکړه او د ماشومانو د پالونکې په توگه یې کار پیل کړ. په همدې وخت کې یې رییس هغې ته ځینې سیاسي او ټولنیز کتابونه ورکول او دې به مطالعه کول. دا کتابونه د بېلو سیاسي مفکورو او دغه راز د بېلو ټولنیزو موضوعاتو په اړه لیکل شوي وو. لیسنگ د لومړي ځل لپاره همدا مهال قلم را واخیست او لیکل یې پیل کړل. په ۱۹۳۷ کال کې له زیمبابوې برېتانیا ته راغله او د دې هېواد په جنوب کې په یوه ښار کې مېشته شوه. دلته یې د ټېلیفون د اپراتور یا خدماتي برخې د ځواب ورکوونکې په توگه کار پیل کړ. د لږ مودې تر تېرولو وروسته دلته له خپل فرانک ویزدم سره معرفي کېږي او بیا له هغه سره واده کوي. د دوی گډ ژوند لږ د دوو ماشومانو تر پیدا کېد وروسته په ۱۹۴۳ کال کې پای ته رسېږي او له یو بل بېلېږي.

تر طلاق وروسته لیسنگ د چپیانو یا سوسیالیستانو د کتابونو د یوه انجمن غړیتوب اخلي. همدلته له ډېرو سیاسي څېرو سره معرفي کېږي او مطالعه هم کوي. خپلو لیکلو ته هم ادامه ورکوي. دلته له گوتفرید لسینگ سره معرفي کېږي او دواړه تر څه مودې وروسته واده کوي. دا د لسینگ دویم او وروستی واده وي. په ۱۹۴۹ کال کې دا واده هم په طلاق ختمېږي او تر هغه وروسته لسینگ واده نه کوي. په ۱۹۴۹ کال کې لسینگ له خپل کشري زوی سره لندن ته لاړه. په همدې وخت کې یې خپل لومړنی ناول چاپ کړ. دا کتاب یې (شنه چمنونه سندرې بولي) نومېده او نوموړې یې ښه مشهوره کړه.

نقادان په دې باور دي چې دې کتاب ته د لسینگ تر ټولو مهم او مشهور اثر هم ویلی شو. بل اثر چې دا یې خورا مشهوره کړه هغه یې زرینه کتابچه نومېدو. دا کتاب یې په ۱۹۶۲ کال کې چاپ کړ. په ۱۹۸۴ کال کې یې هڅه وکړه چې په مستعار نامه دوه ناولونه چاپ کړي، هغې غوښتل په دې توگه ثابته کړي چې د تازه لیکوالانو په لار کې څومره خنډونه دي او د اثارو د چاپ لپاره څومره سانسور ته اړ دي. د لسینگ ناشر د نوموړې دا پرېکړه رد کړه او د کتابونو له چاپ یې ډډه وکړه. په مقابل کې یې په امریکا کې ناپېف انتشاراتو د هغې غوښتنه ومنله او کتابونه یې چاپ کړل.

مېرمن دوریس لسینگ پیاوړې لیکواله وه. هغه په لیکوالۍ کې خپله ځانگړې لاره او سبک درلود، خو سره له دې هر څه د نوبل جایزې تر اخیستلو پورې دومره مشهوره نه وه. دوریس له ۲۰۰۷ کال وروسته هغه مهال مشهوره شوه چې د نوبل جایزه یې وگټله او اثارو ته یې د لوستونکو پام شو. همدا راز یې د حق الچاپ ډېر شو، شتمنه شوه، خو له رسنیو سره یې په خبرو کې وویل، د جایزې له گټلو خوښه ده، اما ولې په زړښت کې. په دې مانا چې په هغې نور عمر تېر و او د نوبل جایزې تر گټلو شپږ کاله وروسته لسینگ له دې نړۍ لاړه.

دوریس د لیکلو ځانگړی سبک لري. په لومړۍ مرحله کې هغه طبقاتي انځورونې کوي. د طبقاتي مسایلو په اړه لیکل کوي. هڅه کوي چې لوستونکی په ټولنه کې شته بې عدالتیو په تېره د مېرمنو پر وړاندې موجودو ناخوالو ته متوجه کړي. د مېرمنو له محرومیتونو لیکل کوي او ډېری وخت یې د بحث موضوع هم د مېرمنو ژوند دی. د نوبل کمېټې هم ویلي وو چې هغې په خپلو اثارو کې د ښځو حماسي تجربې روایت کړې دي، نو له همدې امله یې د نوبل جایزې گټونکې بللې ده. نوبل بنسټ هغه هڅولې وه او په وینا یې دوریس په شکاکیت، سوز، زور ځواک او پیاوړتیا په تمدن کې وېشل شوې ده او په پوره دقت یې پلټنې کړې دي.

د هغې تر ټولو د بحث وړ کتاب چې ډېرې خبرې وربانديې شوې او مشهور شوی هم دی، آلفرد او امیلي نومېږي. دا کتاب په لومړي سر کې داسې ښکاري لکه د یو چا خپل خاطرات، خو هغه په حقیقت کې په فیکشن او ننفیکشن سبک کې لیکل شوی ناول دی. یوه واحده پېښه په دواړو بڼو سپړل کېږي. نوموړې هڅه کړې چې د خپل ژوند شخصي تجربې په دې کتابل کې ځای پر ځای کړي. هغې په دې کتاب کې د خپل مور او پلار پر ژوند خبرې کړې دي. هغې په ۹۰ کلنۍ کې هم په خپلو خبرو کې ویلي وو، لا هم هڅه کوي چې خپل مور و پلار درک کړي. لا هم غواړي په دې پوه شي چې مور او پلار یې څه غوښتل او ولې خپلو هیلو ته و نه رسېدل.

دوریس لسینگ په برېتانیا کې یوه ستره او جریان جوړوونکې لیکواله ده. هغه یو ځانگړی شخصیت او نړۍ لید لري. نقادان په دې باور دي چې د نوموړې ځانگړې لیدلوري یې پر مخاطبانو په تېره د مېرمنو پر ژوند او شخصیت ډېر اغېز کړی دی. نوموړې انعطاف منونکې وه، په پوره شجاعت یې د فکر د تغیر بهیر واضح کړی دی او صادقانه له مخاطب سره خپلې تجربې شریکوي. د خپلو افکارو او احساساتو په بیان کې خورا زړوره ده. هغې په خپل همدې زړورتوب د ادبیاتو په تېره د برېتانیا په ادبي تاریخ کې ځانگړی ځای خپل کړی دی او ډېر اثار یې پنځولي دي. هغه په خپله وایي، د اروپا ټولې ادبي جایزې یې گټلې دي. په خپله وایي، دا لعنتي جایزې مې ټولې وگټلې، هره یوه، هره یوه خو یوازې دې ته خوشاله یم چې د جایزو کلیکسون مې مکمل شو. نوموړې دا خبره د نوبل جایزې تر اخیستلو وروسته وکړه. د نوموړې د دې خبرو خپرېدو په رسنیو کې غوغا جوړه کړه. د کتاب مینه وال، نوي ځوانان او ان ځینې لیکوالان د دې لیکوال له دې ډول خبرو احساساتي شوي وو. هغې خپلې خبرې کولې، تل یې دا عادت و، همداسې د خپل زړه خبرې یې لیکلې، د دې پروا یې نه ساتله چې څوک څه وایي، مخاطب څه وایي او نړۍ یې په اړه څه فکر کوي. دې ته هېڅ مهمه نه وه.

لسینگ د شلمې پېړۍ د دویمې نیمایي له تر ټولو مشهوره او لویه لیکواله گڼل کېږي. تر ډېره دا معموله ده چې د ادبي جایزو گټونکي، چوکاټي، چوپ او یو ډول وچ شخصیتونه وي، خو لسینگ د دې هر څه خلاف وه او دا دود یې مات کړ. هغې لکه همغه بې پروا لیکواله چې وه، د هرې جایزې تر اخیستلو وروسته هم همداسې متواضع، بې پروا او د خپلو احساساتو پر څرگندولو برلاسې وه. نوموړې د ادبي جایزو د ورکړې دې عجیبه بهیر ته هم نوی رنگ ورکړ. نوموړې په خپل ژوند کې له ډېرو فکري تحولاتو سره مخ شوې ده او بنسټیز بدلونونه یې تجربه کړي دي. له کمونیزم نیولې بیا تر فمینېزم، عرفان، تصوف او انسان پېژندنې په بېلو برخو کې یې تجربې کړې دي او وخت په وخت یې له دې مفکورو یوې ته تمایل پیدا کړی دی.

هغه پوهېده چې مینه وال او لوستونکي یې ډېر دي. نوموړې په دې باور وه چې لوستونکي د لیکوالانو د ژوند برخه دي. ټول ازاد دي، دې به د ټولې نړۍ لیکوالان یو بلل او په خبره یې دا ټول یوه ټوټه دي چې د بشریت لپاره کار کوي. دوی سره تړلي دي او تقریباً د یوه بدن غړي دي. لیسنگ هغه چا ته ورته وه چې پر څوکۍ ناسته وه، فکرونه یې کول، ازاده وه، د چا تر کنټرول لاندې نه وه، نو له همدې امله یې غوښتل هره لار و ازمویي. تجربې ډېرې کړې او له خپلو تجربو په لیکوالۍ کې استفاده وکړي.

نوموړې په مستعار نامه د اثارو په خپرولو کې غوښتل دا خبره هم ثابته کړي، چې نوم یې داسې عادي نه دی. په دې مانا چې د دې نوم نه وي، نو خلک هغه اثر نه لولي، نو ځکه ناشران په مستعارو نومونو د هغې د اثارو له چاپولو لاس په سر شول. هغې به ویل چې غواړې د هر چا اواز وي. غواړي د هر لوستونکي درد بیان کړي او تر بل یې ورسوي. هغې ځان د بشریت لیکواله باله او په دې یې ټینگار کاوه چې هره تجربه باید وړاندې کړي.

د لسینگ د اثارو یوه بله ځانگړنه د نوموړې خلاقیت دی. له لومړي سره یې لیکوالي په نوښت پیلېږي. نوي اثار لیکي، نوې تجربې وړاندې کوي او طرز یې نوی دی. ځینې کتابونه یې لکه ښه ترهگر، شنه چمن سندرې بولي، خواږه خوبونه، د وچې بندي او تر ټولو مهم د یادښت زرینه کتابچه ټول په یوه ځانگړي او دې پورې اړوند سبک لیکل شوي دي. دا اثار یې هر یو بېله مفکوره بیانوي او له دې ښکاري چې دوریس لسینگ ډول ډول تجربې کړې دي او په دې برخه کې ځان خپلواک بولي.

لسینگ یوه پیاوړې لیکواله وه. تر ۲۰۱۳ کاله پورې یې لیکل کول او د مخاطبانو لپاره یې پر نو موضوعاتو لیکنې کولې. په رسنیو کې راڅرگندېده، په زړه پورې ویناوې او خبرې به یې کولې. هغه د چوکاټونو په کیسه کې نه وه. پروا یې نه ساتله، بلکې د خپل زړه خبرې به یې کولې او خپل احساسات یې په ازادانه توگه بیانول. برېتانیا ته چې کله راغله، نو دلته یې په مدني او حقوقي فعالیتونو لاس پورې کړ. له سیاسي جریانونو سره معرفي شوه او بشردوستانه کار یې دا و چې د اټومي وسلو پر ضد له نړیوال غورځنگ او کمپاین سره یو ځای شوه. هغه اوږده موده په زیمبابوې کې وه، نو له همدې امله یې د تورپوستو پر وړاندې روان تبعیض هم غانده او د دې ملاتړې وه چې ټول نړیوال باید په ځمکه کې له مساوي حقوقو برخمن وي. دوی دې په بېلو نومونو، د رنگ، مذهب او قوم پر بنسټ نه وژل کېږي؛ بلکې د انسان په توگه دې د ټولو بشري حقونو ته درناوی وشي. د نوبل بنسټ په ۲۰۰۷ کال کې هغه د نوبل جایزې گټونکې وبلله. هغه مهال ۸۸ کلنه وه. دا د نوبل تر ټولو عمر خوړلې گټونکې وه. له همدې امله د نوبل گټلو پر مهال دومره خوشاله نه وه، ویل یې سمه ده چې د نوبل جایزه یې راکړه، خو ولې د عمر په دې وروستیو کلونو کې.

همیانۍ

# د نورو په شخصي ژوند کې لاسوهنه؛ یانې د هغوی پر معنوي حقوقو تېری

لیکنه: شپنه سلګۍ

د اسلام په مبارک دین کې هم د نورو په کارونو کې لاسوهنه رد شوې، خو مشوره یو اصل ګڼل شوې هغه هم په هغه صورت کې چې مقابل لوری د مشورې ورکولو غوښتنه وکړي، که مشوره هم پرته له غوښتنې ورکړل شي، د بل په شخصي ژوند کې لاسوهنه ګڼل کېږي.

ډېر ځله لیدل شوي چې بې ځایو لاسوهنو د کورنیو خوږ ژوند د زهرو په څېر تریخ کړی دی، ډېری وخت د کورنیو مشران په دې نظر وي چې د دوی لاسوهنې د اولادونو د خیر لپاره دي، خو موږ بیا دا نه منو.

نن سبا هر څوک وایي چې د خپل خپلوانو او دوستانو بې ځایه لاسوهنو ډېر ځورولي او ان تر دې چې کله خو یې له همدې امله فشار او شکر هم لوړ شوي دي.

لاسوهنه که د کورنۍ د غړو، نږدې دوستانو او دفتري همکارانو تر منځ وي، که د ولسونو او هیوادونو په کچه، په هر اړخ کې یې پایلې تل ترخې، بدرنګې او ډېر ځلې د کوشیر کېدو نه وي. زموږ په څېر په وروسته پاتې ټولنو کې چې ډېری خلک د لمر پیتاوي ته وزګار ناست وي، نه یوازې د لارویانو په جامو، وینښتانو او څېلیو منفي تبصرې او ملنډې وهي، بلکې هغه ورته کمال او سرېتوب ښکاري.

لاسوهنه که په فردي ډول وي یا ټولنیزه توګه، په اصل کې هغه یوه عقلي ناروغي او کلتوري بدمرغي ده او په هر ځای کې داسې خلک لیدل کېږي چې پر دې ناروغۍ اخته دي، خو زموږ په ټولنو کې یې ځالې او هګۍ اچولې دي. فکري انډوخر او په هر څه کې ځان غوپه کول هغه څوک کوي، چې یا یې د تعلیم کچه ټیټه وي، یا په کوم محروم چاپیریال کې ستر شوی وي، یا پر خپل ځان باور او اعتماد نه لري، عُقده مند وي او د نورو خوښي او ښیرازي زغملی نشي.

د نورو په چارو کې لاسوهنه یوازې د هغوی د حقوقو تر پښو لاندې کول نه دي، بلکې هغه بربنډه سرغړونه او اخلاقي سپکاوی هم دی. لاسوهنه احساس او عزت النفس زخمي کوي، د ډېرو خوږو ملګرو او ګاونډیانو تر منځ واټن پیدا کوي او له مقابل لوري سره د درناوي غښتلي مزي پرېکوي. دا چې هر انسان جلا طبیعت، ځانګړې غوښتنې او فطري غریضې لري، نو باید چې د عبادت او عقیدې په ګډون، د هر چا د شخصي انتخاب، شعور او ذوق درناوی وشي. ځکه بې ځایه مشورې ورکول او په هر څه کې ځان داخل او شریک ګڼل، سپین سترګي او د غرض ننبه ګڼل کیږي.

ډېره جالبه ده، کوم خلک چې د نورو په ورځني ژوند، چارو او پروګرامونو کې لاسوهنه کوي، په حقیقت کې هغوی خپلې ستونزې او ناکامۍ د نورو په لګن کې ورغورځوي او یوازې خپل بړاس باسي. لږې خبرې کول او په مجلس کې نورو ته ډېر غوږ نیول، پوهه او ځیرکې ده، خو زموږ په ټولنه کې خبرلوځ سړې یا مېرمنې ته چې د هر چا له خولې خبره اخلي، د کمال او هنر بنده ویل کیږي.

رسول علیه السلام فرمایي: د نیک مسلمان ننبه او غوره کرکټر همدا دی چې د نورو په چارو کې له لاسوهنې پرهیز کوي او په هغه څه کې ځان نه ورګډوي چې په ده پورې اړه نه لري. دا لنډ او مبارک حدیث د ټولنیز ژوند او خپلمنځي اړیکو بنسټ، د متقابل درناوي په درجه برابروي او خپل امت ته په ګوته کوي چې د یو مؤمن عمده صفت د نورو په چارو کې نه لاسوهنه ده. همدارنګه په دې حدیث کې د وخت اهمیت ځرګندېږي چې مسلمانان باید خپل وخت او استعداد عبث نه کړي. د انساني طبیعت تومنه همداسې ده که چیرې په ښو او نیکو چارو کې مصروف نشي، نو د بدۍ او شر خوا ته یې بیایي.

یوه ورځ یو سړی حضرت پیغمبر (ص) ته راغی او ورته یې وویل چې یا رسول الله! زه په خپل قوم کې یو عزتمند او منلی سړی یم، ما ته څه حکم او پیغام دی چې خپل ولس ته یې یوسم؟ هغه مبارک ورته وفرمایل: دوی ته امر وکړه چې یو په بل باندې سلام اچوي او لږې خبرې دې کوي، مګر دا چې په دوی پورې اړه ولري. که ځینې خلک په دې خاطر ځان ته د لاسوهنې حق ورکوي چې ګواکې مداخله، د مشورې، امر باالمعروف یا نهی عن المنکر په څېر ده، نو دایې هسې ګومان کړی دی. ځکه مشوره د خیر په نیت او د غوښتنې په صورت کې ورکول کیږي، مګر لاسوهنه له غوښتنې او موافقې پرته وي او تیری بلل کیږي. په شریعت کې له بل هر دین او تمدن څخه زیات پر دې ټینګار شوی چې مذهب، سیاسي لید لوری، کلتور، دودونه، لباس، خواړه، ناسته پاسته او د سفر لوری د هر چا خپله خوښه، ذاتي انتخاب او مدني حق دی. حتې مور او پلار نشي کولای خپل بالغ اولاد چا ته په زور او د هغه یا هغې له رضا او موافقې پرته چا ته په نکاح کړي. له همدې امله، کوم وګړي چې د نورو په کارونو کې مداخله کوي، خلک ورڅخه ځان ساتي، خوا ته یې نه ورځي او په دې ډول په ټولنه کې یوازې پاتې کیږي.

کله چې حضرت عمر بن عبدالعزیز خلیفه شو، نو د لومړنۍ خطبې لپاره یې د خپل دربار او ښار مشهور خلک راټول او داسې یې ورته وویل: ای زما ولسه! که څوک غواړي چې له ما سره همکاري وکړي، نو دا څو ټکي به له ما سره مني، کنه نو ما ته دې نه را نږدې کیږي: د هغه چا عریضه به ما ته راوړئ چې پخپله یې نه شي راوړلای، له ما سره د خیر په کارونو کې مرسته وکړئ او هغه چارې ما ته په ګوته کړئ، چې زما ورته نه فکر کیږي، زما په مجلس کې به څوک غیبت نه کوي او په هغه څه کې به ګوتې نه وهئ کوم چې په تاسو پورې اړه نه لري.

له بلې خوا، امام شافعي خپل دوست ربیعه ته وایي: د بل په کار کې کار مه لره او هغه څه مه وایه چې په تا پورې اړه نه لري، ځکه خبره تر هغې ستا جایداد دی چې لا ستا په خوله کې وي.

په لوېدیځه نړۍ کې د عدم مداخلت او نه لاسوهنې قوانین د فرانسې له انقلاب سره جوخت په ۱۷۸۹ کال کې تصویب او عصري بڼه یې د ټولو اروپایي هیوادونو او لوېدیځې نړۍ د قوانینو یوه مهمه برخه وګرځېده. په دغو پرمختللو ټولنو کې د فرد آزادي خوندي او سره کرښه ګڼل کیږي. د هر وګړي ځانګړې حیثیت خوندي او په هغه کې لاسوهنه له قانون څخه سرغړونه او د مجازات وړ بلل کیږي.

اوس به موږ خپل مخ، لومړی د شریعت او نبوي لارښوونو په هینداره او بیا د لوېدیځوالو د وضعي قوانینو په تله کې وتلو، څو وګورو چې زموږ اخلاق، دریځ او چار چلند په دین برابر دی که په سادین؟


د مهربانۍ له مخې لږ پر خپل ځان رحم وکړئ او په هغه څه عمل وکړئ، کوم چې راته رسول الله او بې نیازه ذات الله تعالي ویلي دي.

## لویه څارنوالي: ملي امنیت د مشرانو جرګې درې غړي د رشوت اخیستلو پر مهال نیولي

لویه څارنوالي وایي چې ملي امنیت د مشرانو جرګې درې غړي د رشوت اخیستلو په تور نیولي دي.

د لویې څارنوالۍ ویاند جمشید رسولي ویلي چې یاد سناتوران ورمه ورځ د ملي امنیت عمومي ریاست منسوبینو او لویې څارنوالۍ د استازو له خوا د ۴۰زره امریکایي ډالرو رشوت اخیستلو په تور لاس په لاس نیول شوي دي.

نوموړي زیاته کړې چې د مشرانو جرګې دغه فعاله درې سناتوران پر چارو د نظارت او څېړنو لپاره بلخ ولایت ته تللي وو. د سرچینې په خبره، د رشوت اخیستلو په تور په نیول شویو کسانو کې په مشرانو جرګه کې د فاریاب، سرپل او د خوست ولایتونو استازي شامل دي.



لا معلومه نه ده چې دا سناتوران اوس چېرې دي. په خپله تورنو سناتورانو او یا مشرانو جرګې په دې اړه لا څه نه دي ویلي. د رسولي په وینا، د یادې قضیې راپور مشرانو جرګې ریاست ته سپارل شوی، خو مشرانو جرګې تر دې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي.

پر همدې مهال د بلخ والي محمد فرهاد عظیمي په یاد ولایت کې خبریالانو ته ویلي، چې د مشرانو جرګې دغه درې کسیزه پلاوی تازه مزارشریف ته تللی و چې په وینا یې، په حیرتان بندر کې د رشوت اخیستلو په تور نیول شوي دي.

عظیمي زیاته کړې: «موږ اړوند ادارو ته هدایت کړی چې له دوی سره همکاري وکړي، خو اوس له یوې ادارې سره یوه مسئله منځته راغلې چې له مرکز سره په همغږۍ بالفعل دغه درې سناتوران د رشوت اخیستلو په تور نیول شوي دي.»

دا لومړی ځل دی چې د مشرانو جرګې درې فعال غړي د رشوت اخیستلو په تور نیول کیږي.

بلخوا یوې حکومتي سرچینې د نوم نه ښودو په شرط مسیر ورځپاڼې ته وویل چې محمد انور باشلیق، لیاقت الله بابکرخېل او محمد عظیم قویاش هغه سناتوران دي چې د دې قضیې په تور نیول شوي دي.

یادې سرچینې دغه راز وویل، چې ولسمشر غني د دغو کسانو له ډلې د بابکرخېل او انور باشلیق د مشرانو جرګې غړیتوب هم لغوه کړی دی.

## ملي امنیت شورا: طالبانو د ژمنې خلاف له القاعده شبکې سره خپلې اړیکې نه دي پرې کړي

د امریکا او طالبانو ترمنځ په دوحه کې د شوي تړون پر بنسټ باید طالبان د القاعده په ګډون، له ټولو ترهګرو ډلو سره خپلې اړیکې پرې کړي، خو افغان حکومت تور پورې کوي چې طالبانو خپله دغه ژمنه نه ده پوره کړې.

ملي امنیت شورا وایي، وروستۍ پېښې ښیي چې طالبانو له القاعده ډلې څخه خپلې لیکې نه دي جلا کړي، خو طالبان بیا د حکومت دا خبره ردوي.

د ملي امنیت شورا له وینا، طالبان او القاعده ایډیالوژیکي اړیکې لري او لا هم د افغان حکومت پر ضد یوځای جګړه کوي. د دې شورا ویاند رحمت‌الله اندړ وایي: «طالبان او القاعده یو له بل سره ایډیالوژیکي اړیکې لري او یو له بله په اسانۍ نه شي بېلېدای. که څه هم طالبانو له امریکا سره ژمنه کړې چې دوی به له القاعده او نورو نړیوالو ترهګرو ډلو سره خپلې اړیکې شلوي، خو وروستۍ پېښې په ګوته کوي چې طالبان او القاعده خپلې لیکې نه دي سره بېلې کړې او یوځای د حکومت پر ضد جنګیږي.»

دا په داسې حال کې ده چې د جمعې او یکشنبې په ورځو کې ملي دفاع وزارت په دوو جلا جلا خبرپاڼو کې وویل چې د هلمند په ناوې ولسوالۍ کې یې د القاعده شبکې هغه غړي په نښه کړي، چې طالبانو ته یې د ماین خښونې او سنایپر یا نښه ویشتونکو ټوپکو روزنه ورکوله.

خو د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد د حکومت د دې ادعا په ردولو سره وایي، د القاعده اړوند ډلې هېڅ غړی په افغانستان کې نه‌شته او نه هم ورته زمینه برابره ده چې دلته واوسیږي.

له دې وړاندې هم افغان حکومت پر طالبانو تور لګولی چې په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره‌یې په خپلو ژمنو عمل نه‌دی کړی.

دا په داسې حال کې ده چې د روان کال په جوزا میاشت کې ملګرو ملتونو هم په یوه راپور کې چې د دغه سازمان د امنیت شورا ته یې وسپاره، لیکلي وو چې لا هم په افغانستان کې د القاعده ډلې مهم مشران او سلګونه وسله‌وال فعالیت کوي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۹۳,۷ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰٤٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي نهمه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۹مه | ۶۵۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۴ | ۸ | ۵ | ۱۱ | ۱۲ | ۶ |
| ▼ | -۸ | ۲ | -۳ | ۱ | ۰ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۰ | لمر ختل ۰۶:۵۹ | ماسپښين ۱۱:۵۶ | مازيګر ۰۳:۱۴ | ماښام ۰٤:۵۲ | ماخوستن ۰۶:۲۲

## نړۍ




## راپورونه: په بلوچستان کې په يوه بريد کې اووه پاکستاني پوځيان وژل شوي



د پاکستان پوځ وايي، د بلوچستان د مرکز کوټې په ۱۰۵ کيلو مترۍ کې د هارنای په سيمه کې د دغه هېواد په نيمه پوځيانو بريد شوی او اووه تنه يې وژل شوي دي.

د يادونې ده چې د پاکستان پوځ او امنيتي سرتېري وخت ناوخته په دغه ايالت کې د حکومت د وسله والو مخالفانو تر بريدونو لاندې راځي.

د پاکستان پوځ په يوې اعلاميې کې ويلي: «د مرميو د شديدې تبادلې په پايله کې اووه سرتېري ووژل شول، خو د ترهګرو مخه يې ونيوله.»

تر دې دمه کومې ډلې د دغه بريد مسووليت نه دی اخيستی. په بلوچستان کې بلوخ بېلتونپال له کلونو راهيسې وسله وال مقاومت کوي او همدغه راز دغلته د اسلامپالو بريدونه او مذهبي تشدد پېښې هم کېږي.

په ورته مهال پاکستان هند تورنوي چې د بلوخ ملتپالو ملاتړ کوي ترڅو په پاکستاني پوځيانو بريدونه وکړي. بلوچستان ايالت د هند او پاکستان د اقتصادي دهلېز د ميلياردي پروژې يوه مهمه برخه ده.

بلوخ بېلتون غوښتونکو په تېر کې پر دغې پروژې د بريدونو مسووليت هم منلی او پاکستان زرګونه امنيتي ځواکونه د دغې پروژې د امنيت لپاره استولي، خو له دې ټولو تدابيرو سره سره، د پاکستاني ځواکونه د دې پروژې په بشپړ خونديتوب کې پاتې راغلي دي.

## الريسوني: ځينو اسلامي هېوادونو د وېرې او شخصي ګټو لپاره له اسراييل سره اړيکې رغولي

د اسلامي نړۍ د ديني عالمانو د ټولنې مشر احمد الريسوني ويلي چې د يو شمېر اسلامي هېوادونو مشرانو يا له وېرې او يا هم د خپلو شخصي ګټو لپاره په داسې حال کې له اسراييل سره اړيکې عادي کړي، چې دا هېواد په ځرګند ډول هغه کوي د مسلمانانو پخوانۍ قبله(بيت المقدس) اشغال کړي. نوموړي له قدس پرېس سره په مرکه کې له اسراييل سره د اسلامي هېوادونو اړيکې حرامې او باطلې بللې او زياته کړې يې ده چې د اسلامي نړۍ د عالمانو ټولنې په وار وار په همدې اړه اعلاميې خپرې کړې او له اسلامي هېوادونو څخه يې غوښتي چې له اسراييل سره دې اړيکې نه عادي کوي، خو په وينا يې، تر اوسه يې هېڅ هېواد خبره نه منلې. نوموړي دغه راز د يو شمېر عربي هېوادونو نظامونه بې باکه او بې بندوباره بللي او زياته کړې يې ده چې دوی هېڅ خپلواکي نه لري او ټولې پرېکړې يې بهرنيان کوي. دا په داسې حال کې ده چې له اوږدې مودې وروسته روان ميلادي کال د امريکا په منځګړيتوب، متحده عربي اماراتو، اردن، سوډان او ځينو عربي او اسلامي هېوادونو له اسراييل سره خپلې پرې شوې اړيکې له سره رغولې دي.

## يافته‌ها: رئيس اداره ملی احصائيه در سال‌های ۱۳۹۶ و ۱۳۹۷ کرايه خانه‌اش را از بودجه عادی اين اداره پرداخته است




مرکز خبرنگاری تحقيقی پيک به سندی دست يافته است که نشان می‌دهد جاويد رسولی، رئيس اداره ملی احصائيه در سال‌های ۱۳۹٦ و ۱۳۹۷ يک دربند خانه‌ی مسکونی را برای بودوباش خود و خانواده‌اش در ساحه وزير محمداکبر خان، شهر کابل ماهانه در بدل ۱۲۹ هزار افغانی از بودجه‌ی عادی اداره ملی احصائيه و معلومات به کرايه گرفته است.

اين رقم، بيش از يک‌ونيم ميليون افغانی در يک سال می‌شود که به‌حساب بانکی مالک خانه، سلام‌جان فراز به‌گونه‌ی فصل‌وار پرداخت شده است.


بربنياد معلومات به‌دست‌آمده از يک منبع معتبر، آقای رسولی اکنون در اين خانه بودوباش ندارد و از سال گذشته به اين‌سو به ناحيه سوم شهر کابل نقل‌مکان کرده و خانه‌ی ديگری را به کرايه گرفته که کرايه آن نيز از بودجه‌ی اين اداره پرداخت می‌شود.

روبينا شهابی، سخن‌گوی اداره ملی احصائيه نيز می‌پذيرد که هم‌اکنون رئيس اين اداره افزون‌بر اين‌که خانه‌ی شخصی در خيرخانه دارد، اما ظاهرا به‌دليل تهديدهای امنيتی که در برابر رجال برجسته‌ی دولت وجود دارد، در خانه‌ی کرايی که از سوی اين اداره در منطقه‌ی کارته ۴ شهر کابل قرارداد شده، زندگی می‌کند.

خانم شهابی درباره‌ی مبلغ کرايه خانه چيزی نمی‌داند؛ اما تأئيد می‌کند که اين کرايه از بودجه‌ی عادی اداره پرداخت می‌شود.

## ژونـــد


## د سامسُنګ لومړنی ۵ کامرې لرونکی موبایل



سامسُنګ کمپنۍ غواړي خپل لومړی پنځه کامرې لرونکی ځيرک موبايل خرڅلاو ته وړاندې کړي. د افشا شويو معلوماتو پر بنسټ، سامسُنګ کېدای شي د جنوري په ۱۴مه د ګلکسي ايس۲۱ لړۍ نوي ځيرک موبايلونه معرفي کړي. له اوږدې مودې راهيسې باوري سرچينو د دغو ځيرکو موبايلونو تقريباً ټولې ځانګړنې چې ډيزاين، کامرې، وړتياوې او بيه په کې شامل دي، افشا کړې دي. اوس يوې بلې باوري سرچينې د ګلکسي ايس۲۱ الټرا اړوند ځينې نور تفصيلات خپاره کړي دي. دغه معلومات د ګلکسي ايس۲۱ الټرا چې د ايس۲۱ د لړۍ تر ټولو پياوړی او ګران بيه ځيرک موبايل دی، د کامرې په اړه دي. دغه ځيرک موبايل کې به اپټيکل زوم لپاره ۳ايکس او ۱۰ايکس ټيلي فوټو کامرې ورکړل شي، چې دواړه به اپټيکل امېج استېبلايزيشن هم ولري. د ګلکسي ايس۲۱ الټرا اصلي کامره به ۱۰۸ مېګاپکسله وړتيا لرونکې کامره وي او د لېزر استډ اټوفوکس وړتيا به ولري.

## د پیازو پوستکی د فایبر غوره سرچينه ده

ډېری خلک د پيازو پوستکی لرې غورځوي، خو ايا پوهېدی چې د پيازو پوستکی حتی خپله له پياز څخه ډېر ګټور دی؟ د نورو سبزيجاتو په څېر، د پياز پوستکی هم خپله له پياز څخه ډېر فايبر او نور ګټور مواد لري، چې له همدې امله د لرې غورځولو پر ځای بايد په مختلفو لارو وکارول شي. په داسې حال کې چې پياز د انټي اکسېډنټونو غوره سرچينه ده، د پياز پوستکی حتی خپله له پياز څخه ډېر انټي اکسېډنټونه لري. د پياز پوستکی همدا راز د کويرسټين (Quercetin) غوره سرچينه ده. کويرسټين يو ډول فلاونول (Flavonol) دی چې د وينې لوړ فشار ټيټولو او د وينې د رګونو د بندېدو مخه نيسي. کويرسټين هغه مواد



دي چې د وينې لوړ فشار، مضر کولیسټرول او پړسوب کموي، د حساسيت پر وړاندې مبارزه کوي، ژور خپګان يا ډپرېشن درملوي، د عضلاتو وده او فعاليت غوره کوي او د سرطان د ځينو ډولونو مخه نيسي. د پياز پوستکی همدا راز د فايبر غوره سرچينه ده او ډېر فايبر لرونکي خواړه د زړه د ناروغيو، د سرطان د ځينو ډولونو، د هاضمې سيستم ستونزې او د شکرې ناروغۍ خطر کموي.

عزيزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزيزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختيا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بايومتريک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګليسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی سټېټمنټ ليدل، د صرافی خپلکاره ماشين څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پيسې وېستل، د مبايل شمېرې ته پيسو استول او د د صرافی خپلکاره څخه يې ماشين ترلاسه کول، د مبايل شمېرې ته کريډيټ زياتول، د بل اداينه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه يې له ايستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازياتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړيکه ټينګه کړئ.
www.azizibank.af
1515

